امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی امادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

# هفته نامه مدیریت حوادث



۱۴ الی ۱۹ میزان ۱۴۰۳

## شماره هفتاد و هفتم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د ترکمنستان جمهوریت سفیر سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابی ، په خپل کاری دفتر کې په کابل کې مېشت د ترکمنستان جمهوریت سفیر محترم خواجه عوضوف سره وکتل او د بشری مرستو په اړه یې خبرې وکړې.
په دې ناسته کې محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د ترکمنستان هیواد سفیر او ورسره مل پلاوی ته په ښه راغلاست سره وویل: افغانستان او ترکمنستان دوست هېوادونه دی او د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوستۍ پر پیاوړتیا یې ټینګار وکړ.
ترابی صاحب په اقتصادی برخه او بشردوستانه مرستو کې د ترکمنستان له همکاریو څخه د مننې ترڅنګ زیاته کړه چې ما...

ادامه در صفحه۲

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست په افغانستان کې میشت د چین ولسی جمهوریت سفیر او مل پلاوی سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابی په خپل کاری دفتر کې د چین له سفیر محترم ژاوشینګ سره ولیدل او د زیانمنو شویو لپاره د بشری مرستو په اړه یې خبرې وکړې...

ادامه در صفحه۲

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د هیلو ټرسټ نړیوالې موسسې د ګډو همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک کړل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابی او د هیلو ټرسټ نړیوالې موسسې مسؤل ډاکټر فرید احمد همایون ترمنځ د ګډو همکاریو درې مهم هوکړه لیکونه لاسلیک شول...

ادامه در صفحه۳

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ډنمارک د کډوالۍ نړیوالې موسسې ترمنځ د ګډو همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابی او د ډنمارک د کډوالۍ نړیوالې موسسې مرستیال محترم احمد ضیا مایار ترمنځ د ګډو همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو...

ادامه در صفحه ۴

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري سرپرست د ترکمنستان جمهوریت سفیر سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د ۱۴۴۶ کال د ربیع الثانی ۷ نېټه په خپل کاری دفتر کې په کابل کې مېشت د ترکمنستان جمهوریت سفیر محترم خواجه عوضوف سره وکتل او د بشری مرستو په اړه یې خبرې وکړې.
په دې ناسته کې محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د ترکمنستان هیواد سفیر او ورسره مل پلاوی ته په ښه راغلاست سره وویل: افغانستان او ترکمنستان دوست هېوادونه دی او د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوستۍ پر پیاوړتیا یې ټینګار وکړ.
ترابی صاحب په اقتصادی برخه او بشردوستانه مرستو کې د ترکمنستان له همکاریو څخه د مننې ترڅنګ زیاته کړه چې ما تل د ترکمنستان هیواد له مرستو او همکاریو څخه یادونه کړې ده.
له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سرپرست، د ترکمنستان هیواد له مرستو څخه د مننې ترڅنګ د بشردوستانه مرستو د دوام غوښتنه وکړه. نوموړی همدارنګه په هېواد کې د طبیعی پېښو او ښوزلۍ د زیاتوالی په اړه یادونه وکړه او د اړتیا له مخې یې د بشردوستانه مرستو غوښتنه وکړه.
ورپسې د ترکمنستان سفیر محترم خواجه عوضوف، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سرپرست له مېلمه پالنې څخه د مننې ترڅنګ د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د دوستۍ یادونه وکړه، او د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوستۍ د پراختیا غوښتنه یې وکړه.
محترم خواجه عوضوف د خپل هیواد لخوا د پکتیکا او هرات زلزله ځپلو سره د مرستو یادونه هم وکړه او ویې ویل: موږ ژمن یو چې دغه مرستې پراخې کړو. هغه همدارنګه څرګنده کړه چې موږ د افغانستان خلکو لپاره له ملګرو هیوادونو څخه د بشردوستانه مرستو د غوښتنې او راجلبولو په موخه د همکار په توګه شتون لرو.
هغه د افغانستان لپاره په تېره یوه میاشت کې د خپلو مرستو یادونه هم وکړه او ویې ویل: ستاسو د غوښتنې له مخې به خپلو مرستو ته دوام ورکړو.
په پای کې، دواړو خواوو په ټولو برخو، په ځانګړې توګه د پېښو په مدیریت کې د دوه اړخیزه دوستۍ او همکارۍ په پراختیا ټینګار وکړ.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري سرپرست په افغانستان کې مېشت د چین ولسی جمهوریت سفیر او مل پلاوی سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د ۱۴۴۶ کال د ربیع الثانی ۶ نېټه په خپل کاری دفتر کې د چین له سفیر محترم ژاوشینګ سره ولیدل او د زیانمنو شویو لپاره د بشری مرستو په اړه یې خبرې وکړې.
محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د چین ولسی جمهوریت د مرستو څخه مننه وکړه او زیاته یې کړه چې افغانستان او چین ملګری هېوادونه دی او چین د هغو لومړنیو هېوادونو څخه دی چې د سوداګریزو برخو ترڅنګ یې له اسلامی امارت سره بشری مرستې هم کړې دی.
محترم ترابی زیاته کړه چې زموږ فعالیتونه تر ډېره مظلومې طبقې او زیانمنو ته ځانګړې شوی دی او د چین ولسی جمهوریت څخه یې د لا زیاتو بشری مرستو غوښتنه وکړه.

او سوداګریزو همکاریو یادونه وکړه او د تخنیکی، ټرانسپورټی او نورو اړینو برخو کې یې د همکاریو غوښتنه وکړه.
وروسته محترم ژاوشینګ، د چین سفیر، په پکتیکا، هرات او افغانستان کې د نورو پېښو زیانمنو شویو ته د مرستو یادونه وکړه او په بشري مرستو کې یې د خپل هېواد ژمنتیا بیان کړه.
ښاغلی ژاوشینګ زیاته کړه چې چین په اقتصادی، سوداګریزو او بشری مرستو کې همکاریو ته ژمن دی.
په پای کې دواړو خواوو په ټولو برخو کې، په ځانګړې توګه د پېښو مدیریت په برخه کې د لا زیاتو همکاریو او همغږۍ په اړه هوکړه وکړه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د هیلو ټرسټ نړیوالې موسسې د ګډو همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک کړل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابی او د هیلو ټرسټ نړیوالې موسسې مسؤل ډاکټر فرید احمد همایون ترمنځ د ګډو همکاریو درې مهم هوکړه لیکونه د ۱۴۴۶ کال د ربیع الثانی ۶ نېټه لاسلیک شول.
محترم الحاج نورالدین ترابی د هیلو ټرسټ موسسې پلاوی ته په ښه راغلاست سره زیاته کړه چې، موږ موسسو ته بلنه ورکوو، هغوی هڅوو او آسانتیاوې ورته برابروو او په هر ولایت کې چې هغوی خپلې پروژې پلی کوی، له هغوی ملاتړ کوو او د هغوی هوکړه لیکونه په مناسب وخت کې لاسلیک کوو.
له هغه وروسته د هیلو ټرسټ موسسې مسؤل ډاکټر فرید احمد همایون په مناسب وخت کې د هغوی د کارونو ترسره کولو په پار له ترابی صاحب څخه مننه وکړه او خوښی یې څرګنده کړه چې د پخوا په پرتله زموږ کارونه چټک شوې دی.
لومړی هوکړه لیک په هلمند ولایت کې ۱،۳۳۳،۳۱ متر مربع په ماینونو او ناچاوده توکو ککړې ځمکې پاکولو، د ماینونو او ناچاوده توکو خطرونو په اړه ۷۵۹ پوهاوی ورکشاپونو ترسره کولو، د بشری امنیت او د ژوند زمینې برابرولو په برخه کې د ۱،۴۲۵،۰۰۰ (۱ میلیون ۴۲۵ زره) امریکایی ډالرو په ارزښت پلی کېږی.
دویم هوکړه لیک په میدان وردګ، غزنی، خوست، کندهار، زابل، ارزګان، هلمند، هرات، فراه، غور، فاریاب، بلخ، ننګرهار، کونړ او نورستان ولایتونو کې د ۱۰ میلیون متر مربع تر ګواښ لاندې سیمو د پاکولو په برخه کې د ۹،۶۸۴،۰۰۰ (۹ میلیونه، ۶۸۴ زره) امریکایی ډالرو په ارزښت پلی کېږی.
درېیم هوکړه لیک په ۳۴ ولایاتو کې د ۷۵ ټنه ناچاوده توکو له منځه وړلو، د ماینونو خطرونو په اړه د ۳۲۰ ورکشاپونو ترسره کولو چې ۶۸۹۰ نارینه، ښځې او ماشومان په مستقیم ډول ترینه ګټه اخلی، د ۱،۱۲۵،۰۰۰ (۱ میلیون او ۱۲۵ زره) امریکایی ډالرو په ارزښت پلی کېږی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د ډنمارک د کډوالۍ نړیوالې موسسې ترمنځ د ګډو همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابی او د ډنمارک د کډوالۍ نړیوالې موسسې مرستیال محترم احمد ضیا مایار ترمنځ د ګډو همکاریو هوکړه لیک د ۱۴۴۶ کال د ربیع الثانی ۶ نېټه لاسلیک شو.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د ډنمارک موسسې پلاوی ته په ښه راغلاست سره وویل چې ټولې موسسې او امارتی اداری دې د طبیعی او غیرطبیعی پېښو خطرونو کمولو په برخه کې ګډه همکاری وکړی.

همدارنګه ترابی صاحب وویل چې ټولې اداری دې خپلو مرستو ته دوام ورکړی ترڅو په افغانستان کې د بېوزلۍ کچه را ټیټه شی.

د ډنمارک د کډوالۍ نړیوالې موسسې مرستیال احمد ضیا مایار وویل چې دغه سازمان شاوخوا ۲۵ کاله کېږی چې په افغانستان او نورو هیوادونو کې له کډوالو سره کار کوی او په طبیعی او غیری طبیعی پېښو، په جګړه ځپلو سیمو، ماین پاکی او په بېړنیو شرایطو کې افغانانو ته مرستې رسوی.

نوموړی همدا راز له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې له کړنو خوښی څرګنده کړه او وویل چې یادې ادارې په وخت سره زمونږ کاروانه ترسره کړی او زمونږ یې ملاتړ کړی.

په پای کې دواړو خواوو د ماینونو او ناچاده توکو ککړو سیمو پاکولو، نغدی مرستو، د روانی درملنې خدماتو وړاندې کولو، د ماینونو او ناچاودو توکو لت امله قربان شوو ملاتړ او د ماین پاکی موسسو د تخنیکی برخې کارکونکو د ظرفیت لوړولو په برخه کې د ۴۷۱،۰۸۸ (۴۷۱ زره او ۸۸ امریکایی ډالرو په ارزښت هوکړه لیک لاسلیک کړ او یاده پروژه به د کابل ولایت په شېرمه ناحیه، مسلم کلی او سروبی ولسوالی کې پلی شی.

## په کندهار ولایت کې د اورلګېدنې له امله ۵ زیانمنو کورنیو سره خوراکی او غیرخوراکی مرستې ترسره شوې



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت اړوند ۵ کورنیو ته چې د اورلګېدنې له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې مرستو کې هرې کورنۍ ۱۰۰ کیلو اوړه، ۵۰ کیلو وریجې، ۵ لیتره غوړی، ۱ پلاستیکی سطل او ۲ جوړه څپلکې ترلاسه کړې.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري سرپرست په کابل ولایت کې ۲۸۰ زیانمنو او مستحقو کورنیو ته د خوراکي او غیری خوراکي موادو د مرستو د وېش لړۍ پیل کړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د ۱۴۴۶ کال د ربیع الثانی ۵ نېټه د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ته ورغی او د ۲۸۰ زیانمنو او مستحقو کورنیو لپاره یې د خوراکي او غیرخوراکي مرستو د وېش لړۍ پیل کړه.
محترم ترابي صاحب د مرستو د وېش پر مهال ووېل چې د خلګو د عرایضو له مخې، نن ورځ مورږ ۲۸۰ هغو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ویشو چې د وروستیو سېلابونو له امله د کابل ولایت په بېلابېلو سیمو کې زیانمنې شوې وې چې هرې کورنۍ ته د خوراکي او غیرخوراکي موادو مرسته دوه پارسله ۵۰ کیلو یی وړه د چی ۱۰۰ کیلو کیږی، یو پارسل وریجې 25 کیلو او د کور لپاره یوه کاټن چې ۱۴ قلنه مواد پکښی کیوه (د اوبو سطل، د لاس منځلو صابن، د جامو منځلو صابن، د غاښونو برس، د غاښونو کریم، ګانچې) او د اوبو تصفیه کونکی ټابلیټونه او څیني نور توکی شامل دی.
له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سرپرست د دغو مرستو د وېش پرمهال له خلکو سره خواخوږی وکړه او ووېل چې اوس مهال همدومره مرستې مو درلودې او هڅه کوو ترڅو لا زیاتې مرستې تاسو ته درکړو.
ورته مهال د دغو مرستو ترلاسه کونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري څخه مننه او خوښی څرګنده کړه.

## توزیع کمک غیر غذایی برای ۸۰ خانواده متضرر از حوادث در ننگرهار



سازمان بین المللی مهاجرت با همکاری ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار، برای ۷۵ خانواده در ولسوالی کوز کنر و ۵ خانواده در ولسوالی دره نور که از اثر حوادث اخیر متضرر شده بودند کمک غیر غذایی توزیع کرد.
از این کمک‌ها برای هر خانواده کیت وسایل آشپزخانه، فرش، کمپل، بسته حفظ الصحه و یک تعداد وسایل مورد نیاز دیگر توزیع شد.
قابل ذکر است که برای ۱۹ خانواده از این جمله که خانه‌های شان به صورت کلی تخریب شده بود یک یک پایه خیمه نیز توزیع شد.

## له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او میهن د ځوانانو ټولنیزې موسسې تر منځ د ګډو همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو



له پیښو سره د مبارزې امادګی ملی ادارې سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابی او د میهن د ځوانانو ټولنیزې موسسې مرستیال ابراهیم سحر د اړیکو مسؤل ذبیح الله صافی او د پروګرامونو مسؤل سمیع الدین عمار ترمنځ د ګډو همکاریو هوکړه لیک د ۱۴۴۶ کال د ربیع الثانی ۷ نېټه لاسلیک شو.
ترابی صاحب د میهن د ځوانانو ټولنیزی موسسې راغلی پلاوی ته په ښه راغلاست سره وویل چی، موسسې نه یوازی د ماین پاکۍ بلکی په هره برخه کې افغان ولس ته عامه پوهاوۍ ورکړی ترڅو د پیښو خطرونو څخه وژغورل شی.
همدارنګه ترابی صاحب وویل په هر ولایت کی چې مؤسسې خلکو ته عامه پوهاوۍ، د مرستو وېش، سروې، او یاهم نوری مرستی ورسره کوی او موږ ورسره د دولت په اصولو او چوکاټ کی پوره همکاره یو او د یادې ادارې ریاستونه په هر ولایت کی شتون لری.
د میهن د ځوانانو مؤسسې مرستیال ابراهیم سحر وویل چی، ۲ کاله کیږی چی یادی مؤسسې فعالیت پیل کړی دی او د ۱۷۷،۱۶۰ امریکایی ډالرو په ارزښت په لغمان او ننګرهار کی د چاودیدونکو توکو څخه د ژغورلو په موخه ۶۵۲۰۰ کسانو ته به عامه پوهاوۍ ورکړل شی.

## ۲۰۰ زیانمنو کورنیو سره په ننګرهار ولایت کې خوراکی مرستې ترسره شوې



د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د درمان موسسې سره په همکاری، د یاد ولایت سره رود ولسوالۍ او مرکز جلال آباد ښار اړوند ۲۰۰ کورنیو ته چې د وروستیو طبیعی پېښو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته خوراکی مرستې وویشلې.
د یادونې وړ ده چې، په دې مرستو کې هرې کورنۍ ۵۰ کیلو اوړه، ۵ لیټره غوړی، ۲۰ کیلو وریجې، ۳ کیلو لوبیا، نیم کیلو شین چای او ۲ کیلو بوره ترلاسه کړه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري سرپرست د  بشرى حقونو، آزادۍ او بشرپاله مرستو موسسې د مرستیال سره وکتل (IHH)




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د ۱۴۴۶ کال د ربیع الثانی ۷ نېټه په خپل کاری دفتر کې د IHH موسسې د مرستیال محترم شهاب الدین ثاقب او د یادې موسسې د دفتر مدیر محترم انجنیر سردار ولی شهباز سره د نړیوالو اړیکو رئیس محترم الحاج مولوی حافظ عبدالرحمن رحمانی په شتون کې وکتل او خبرې یې وکړې.

محترم ترابی صاحب وویل چې زما د کار پالیسی دا ده چې موسسو ته اسانتیاوې برابرې کړم او د هغوی کارونه پر وخت سرته ورسوم، او زه له دوی څخه  هم ټمه لرم چې خپل کارونه په چټکتیا او روڼتیا ترسره کړی.

وروسته د بشرى حقونو او آزادۍ او بشرپاله مرستو موسسې مرستیال وویل چې، د دغه هوکړه لیک په لاسلیک کولو سره به موږ د بغلان ولایت د برکی ولسوالی پر ۴۰۰ سیلاب ځپلو کورنیو باندې د ۲۸۰۰۰ امریکایی ډالرو په ارزښت خوراکی مرستې ووېشو.

نوموړی زیاته کړه چې  د هرې کورنۍ لپاره ۵۰ کیلو اوړه، ۱۰ کیلو وریجې، ۱۰ لیتره غوړی، ۷ کیلو لوبیا، یو کیلو چای او یو کیلو بوره شامل دی، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري په همغږۍ او همکارۍ به د برکی ولسوالۍ ۴۰۰ سیلاب ځپلو کورنیو ته ووېشل شی.

## په کندز ولایت کې ۳۰۶۴ اړمنو کورنیو سره ۸ میلیونه ۵۷۹ زره او ۲۰۰ افغانۍ مرسته وشوه




د کندز ولایت دشت ارچی او چهاردره ولسوالیو اړوند ۳۰۶۴ اړمنو کورنیو ته د لومړی قسط نغدی مرستو لړۍ پای ته ورسېده.
دغه پروژه په څلورو پړاوونو کې د ARWEO موسسې لخوا د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همکارۍ له کره سروې وروسته پلی شوه.
د یادونې وړ ده چې، د دې مرستو په لومړني قسط کې په دشت ارچی ولسوالۍ کې ۱۵۳۲ کورنیو او په چهاردره ولسوالۍ کې ۱۵۳۲ کورنیو ته ۲۸۰۰ افغانۍ هرې کورنۍ ته ووېشل شوې، چې په مجموع کې ۸ میلیون ۵۷۹ زره او ۲۰۰ افغانۍ کیږی.

## په ننګرهار ولایت کې ۱۲۰ بېوزله کورنیو ته نغدی مرستې وویشل شوې




د IRC موسسې د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همکارۍ, په یاد ولایت کې ۱۲۰ بېوزله کورنیو ته د خوراکي توکو پېرلو په موخه نغدی مرستې وویشلې.
په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته په لومړی قسط کې ۲۸۰۰ افغانۍ وویشل شوې

## کمک غذایی و غیر عذایی برای ۱۵۰ خانواده آسیب‌دیده در کنر



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث کنر برای ۱۵۰ خانواده آسیب‌دیده در ولسوالی‌های مختلف ولایت کنر که از بارش‌های اخیر و سیلاب‌ها آسیب دیده بودند، کمک های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد.
در این روند در حضور محترم الحاج قاری ثابت‌الله صدیقی، رئیس آن ریاست، نمایندگان مقام ولایت و جمعیت هلال احمر برای هر خانواده ۵۰ کیلو آرد، ۲۵ کیلو برنج و ۴ تخته کمپل توزیع شد.
دریافت کننده‌گان این کمک‌ها از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر بخاطر رسیدگی به وقت شان به مشکلات آنان ابراز خرسندی و قدردانی کردند.

## ۱۳۴ خانواده متضرر و بی‌بضاعت در ولایت بلخ کمک خوراکی دریافت کردند




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث، برای ۱۳۴ خانواده بی بضاعت، معیوبین و متضرر از انفجار بالون گاز، کمک خوراکی توزیع نمود.
گفتنی است که برای ۳ خانواده که از آتش‌سوزی متضرر شده بودند به هر یک ۴ بوری آرد، ۲ بوری برنج، ۵ لیتر روغن، ۵ تخته کمپل، دو عدد سطل، یک بسته آشپزخانه و برای ۱۳۱ خانواده بی‌بضاعت و معیوبین به هر کدام ۲ بوری آرد، یک بوری برنج و یک لیتر روغن توزیع گردید.

## ۳۷,۵ تن مواد خوراکی جهت مساعدت برای متضرران احتمالی به ولایت بامیان انتقال شد



بر اساس هدایت سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، امروز ۳۷.۵ تن مواد خوراکی جهت مساعدت برای متضرران احتمالی ناشی از حوادث از گدام‌های مرکزی این اداره به ولایت بامیان منتقل شد.
این مواد شامل ۵۰۰ بوری آرد قزاقی و ۵۰۰ بوری برنج بوده که در گدام ریاست آمادگی مبارزه با حوادث جهت استفاده در وقت ضرورت ذخیره می‌شود.
قابل ذکر است که این مواد توسط موترهای کوماز این اداره که به تازه ترمیم شدند، منتقل شد.

## په لغمان ولایت کې ۳۵۷ سېلاب ځپلو کورنیو سره خوراکی او غیرخوراکی مرستې ترسره شوې

د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت بیلا بیلو ولسوالیو اړوند ۳۵۷ کورنیو ته چې د وروستیو سېلابونو له امله زیانمنې شوې وې، د یاد ولایت مرستیال والی مولوی اختر محمد مزمل او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مشر قاری خیر محمد غازی په شتون کې خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.
د یادونې وړ ده چې، په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ۵۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو وریجې، ۵ لیتره غوړي، او ۵ تختې کمپلې ترلاسه کړې.



## ۲۰۷ خانواده بی‌بضاعت در بلخ مساعدت غذایی دریافت کردند



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ، برای ۲۰۷ خانواده بی‌بضاعت از نواحی مختلف شهر مزار شریف که به آن ریاست و یا مقام ولایت درخواست ارایه کرده بودند، پس از تثبیت، مواد عذایی کمک کرد.
این کمک‌ها که با حضور محترم مولوی بشیر احمد بشرانی، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث آن ولایت و اعضای کمیسیون ولایتی مبارزه با حوادث توزیع می‌شد، برای هر خانواده مقدار، ۵۰ کیلو برنج، یک لیتر روغن و ۲۵ کیلو برنج توزیع شد.

## ۱۸۶ بېوزله کورنۍ په ننگرهار ولایت کې له نغدی مرستو برخه منې شوې




د IRC موسسې د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست سره په همکارۍ، د یاد ولایت اړند ۱۸۶ بېوزله کورنیو ته له سروې وروسته د لومړۍ قسط نغدی مرستې ووېشلې.
د یادونې وړ ده چې، په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ۲۸۰۰ افغانۍ ترلاسه کړې او په راتلونکې کې به نورې مرستې ترسره شی.

## ۶۳۰ سېلاب ځپلو کورنیو ته په بغلان ولایت کې نغدی او خوراکی مرستې ووېشل شوې



د AKAH موسسې د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست سره په همکارۍ, د یاد ولایت مرکزی بغلان ولسوالۍ اړوند ۶۳۰ کورنیو ته چې د وروستیو سېلابونو له امله زیانمنې شوې وې, له سروې وروسته نغدی او خوراکی مرستې ووېشلې.
د یادونې وړ ده چې, په دې مرستو کې له یادې جملې ۳۱۵ کورنیو ته ۴ بورۍ ۵۰ کیلویی اوړه, ۱۶ کیلو لوبیا, ۱۶ لیټره غوړی او یو کیلو مالگه هرې کورنۍ ته, او پاتې نورو کورنیو ته ۱۰۸۵۰ افغانۍ هرې کورنۍ ته ووېشل شوې.

## ۵۵ خانواده سیلاب‌زده در ننگرهار کمک نقدی دریافت نمودند

مؤسسه CWSA تحت چتر ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار کمک های نقدی را برای خانواده های آسیب دیده سیل در شهر جلال آباد توزیع کرد.
در این پروسه ۵۵ خانواده مشارکت داشتند که برای هر خانواده ۱۵۶ دالر امریکایی معادل ۱۰,۵۹۰ افغانی داده شد.
در مجموع ۵۸۲,۴۵۰ افغانی بین خانواده ها توزیع شد.
این خانواده ها در اثر سیل اخیر متحمل خسارات شدیدی شده بودند و هدف از این کمک ها رفع نیازهای ضروری آنها و تامین احتیاج اولیه زندگی آنها بود.



# برای ۱۰۰ خانواده در بادغیس مساعدت غذایی توزیع شد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس، برای ۱۰۰ خانواده متضرران ناشی از حوادث و خانواده شهدا و معلولان مساعدت غذایی توزیع کرد.

از این میان برای ۷۵ خانواده که به آن ریاست عریضه کرده و ۲۵ خانواده شهدا و معلولان که از سوی ریاست شهدا و معلولان آن ولایت معرفی شده بودند، برای هر یک ۱۰۰ کیلو آرد، ۲۵ کیلو برنج، ۱۰ لیتر روغن، ۱۲ کیلو مکرونی و یک کارتن آش مگی توزیع شد.

## اقدامات ضروری در هنگام آتش سوزی

پیام ما:

۱ محیط آتش سوزی را به سرعت ترک نمایید

۲ اگر شرایط امن است به دیگران کمک کنید

۳ زنگ خطر را به صدا در بیاورید

۴ هر چی عاجل به اطفائیه تماس بگیرید